ژباړه: نوروهاب ځپاند

۲۰۱۳/۰۹/۲۰

# پاکستان به په ۶ میاشتو کې نوي ترهګریز لوي ډګر شي

د پاکستان او چین تر منځ اړیکي داسي وده کوي چي د هغې له امله د سیمي اقتصادي نقشه یو مخیزه بدلېدلی شي. اوس دا اړیکي د بیلتون پالني تر ګواښ لاندي راغلي او ښایي دا بیلتون پالنه په ناځاپي توګه په یو بل ترهګریز ډګر واوړي.
واشنګټن لګیا دی د طالب جنګیالیو د تعقیبولو په نیت د پاکستان د پولو دننه د پرمختیایي مرستو د کولو په نامه د ډرون بمباریو ته ادامه ورکوي او په دې توګه غیر ملکیان په نښه کوي. د پاکستان صدراعظم نواز شریف چي کله د می په میاشت کې انتخابات وګټل لمړی سفر یي بیجینګ ته وکړ او هلته یي د چین له صدراعظم لي کېقیانګ سره وکتل. د پاکستان فدرالي کابینې د بیجینګ او اسلام اباد د خبرو اترو پیل کېدل او د تفاهم د هغه یادښت لاسلیکول تصویب کړل چي د هغې له مخې به « د چین ـ پاکستان د اقتصادي دهلیز » اوږد مهالی پلان او د دواړو هېوادونو د پرمختیایي چارو د وزارتونو د عمل پلانونه په کې وده مومي. د چین او ګاونډي پاکستان تر منځ د نوي ترون اهمیت په دې کې دی چي د هند د بحر په پاکستانی غاړي پروت د ګوادر بندر به د چین د سینکیانګ د لیري لویدیز ښار کاشغر سره ونښلول شي او د ۲۰۰۰ کیلو مترو په واټن به د سوداګری د بنسټونو دهلیز چټکه وده وکړي. ښایي دا لامل وي چي پاکستان چین ته د خپل هېواد دسړکونو له لاري د سوداګری او انرژی د دهلیز د رامنځته کېدو وړاندیز کړی دی. د دې کار څخه به موخه دا وي چي د منځنی ختیځ څخه تیل د ګوادر چاڼ ځایونو ته راوړل شي او بیا د سړکونو، پایپلاینونو او یا ریلوي له لاري چین ته ولیږدول شي.
سینکیانګ د چین د تیلو د وتلو زیرمو زړه تشکیلوی اوهغه د تیلو او غازو د لیږد د لوي ساحې په توګه پیژندل کیږي. که مطرح پروژه په پلي کېدو راشي میلیونونه یورو لګښت غواړي. د ریپوټونو سره سم چین د داسي پروژي له پاره د اسانه پورونو د برابرولو تابیا کوي. د دې پروژي په اساس به د اورګاډي د پټلی بنسټونه د فارس د خلیج څخه د تیلو او غازو او د افریقا څخه د معدني موادو او غلو دانو د لیږد مهمي کرښي وي او د دې نوي پروژي د زړه حیثیت به ولري.
د دې پرمختیا سره سم به د ۶ میاشتو په د ننه کې په ناځاپي توګه دا ساحه د « ویري اچونې » په لوي ډګر واوړي او ورو ورو به د اورګاډي د پټلی د ویجاړولو لامل شي. دا حالت ماته د لمړی نړیوالي جګړي څخه د مخه، عثماني امپراطوری ته د جرمني د برلین څخه بیا تر بغداد پوري د اورګاډي د کرښي د ایستلو، خاطره را یادوي چي له امله یي برتانیا مجبوره شوه چي د تزاري روسیې او فرانسي سره اتحاد وکړي او په ۱۹۱۴ م م کال کې لمړی نړیواله جګړه ونښلي.

## د اسیا ـ خلیج اقتصادي طاقت:

چین اړتیا لري چي د افریقا د سرچینو، خوړو او معدني موادو څخه ګټه پورته کړي، له دې کبله د دې سیمو تر منځ سوداګرۍ غوړیدلي ده. د ۲۰۰۰ م کال څخه را په دیخوا د عربي متحده اماراتوسره د چین سوداګری ۱۵ځله زیاتوالی موندلی چي په تولو کې یي ارزښت ۳۷ بلیون امریکایی ډالرو ته لوړیږي. داسي اټکل کیږي چي تر ۲۰۱۵ م کال پوري به دا رقم تر ۱۰۰ بلیون امریکایي ډالرو پورته شي . همدا اوس په دوبی کې د ۲۵۰۰ په شاوخوا کې چینایي شرکتونه او اداري موجودي دي . د چین لوي بانک ( ایي سي بی سي ) او د چین بانک ( بینک اف چاینا ) د خلیج په شیخ نشینو کې څانګې لري او دوي غواړي د سوداګری دوه اړخیزه راکړه ورکړه د امریکایي ډالرو پر ځاي په چینایي « رینمنبي » وکړي.
دمدرحاله چین د تقریبا ۶۰۰ کیلو مترو په واټن د چین او پاکستان تر منځ د لوي لاري په نوي کولو او عصري کولو بوخت دی. دا لویه لار ( کی کی اچ ) په ۱۹۸۶ م کال کې جوړه شوي چي له کاشغر پیل کیږي او پاکستان ته ننوځي، دهغې نوي کېدل به د لویو کانتینر لرونکو درنو وسایلو د تګ راتګ له پاره اسانتیاوي برابري کړي او د ګوادر بندر سره به ونښلیږي. چین او پاکستان اوس په دې لګیا شوي چي د ګوادر بندر او سینکیانګ دواړه د اورګاډي د شبکې په وسیله ونښلوي او د دې پروژي مالي تمویل د چین له خوا کیږي. په دې توګه د ګوادر بندر او د هغې څخه غزیدلي لویه لار ( کی کی اچ ) چین، منځنی اسیا او نورو هېوادونو ته په یو سوداګریز دهلیز اوړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دلته به د انرژۍ ، د لیږد د وسایلواو صنعت یو مرکز پرانستل شي او دا به د عربو د بحیري څخه چین او د منځنۍ اسیا بډایه هېوادونو ته یوه مخامخ او اقتصادي لاره وي.
ګوادر د نړۍ لوي ژور سمندري بندر دی او د جوړښت چارييي په ۲۰۰۲ م کال کې پیل شوی دی، د نقشې او جوړښت وروستۍ مرحلې يې د چین په ګډه همکارۍ سرته ورسېدې . دا بندر د فارس دخلیج په دروازه کې خوراډېر جیو ستراتیژیک اهمیت لري او په راتلونکې کې د دوبۍ د بندر وړ متبادل یا ځاي ناستی دی . په ۲۰۱۱ م م کال کې پاکستان په ګوادر کې د یوي سمندري اډې د جوړولو له پاره چین ته وړاندیز وکړ ، چین باید دغه وړاندیز ته غبرګون وښیې او پنتاګون هم دا مسأله له نږدې څاري.
دا پروژه د عایداتو په بڼه پاکستان ته بلیونونه ډالر راوړي او د ۲ ملیونو په شاوخوا کې دندي او شغلونه زیږوي.
پاکستان او چین داسې تړون لاسلیک کړی چې د هغې له مخې به د بریښنا انرژۍ ته اړ پاکستان وکولای شي چې د هېواد د ننه د ډیامر ـ بهاشااو بنجي بریښنا بندونه جوړ کړي او د اوبو بریښنا ته به لاسرسی ومومې.
چین غواړي د ایران څخه هم غاز وارد کړي، له دې کبله نیت لري د ایران ـ پاکستان د غازو د هغو نل لیکو سره ځان ونښلوي چې د پاکستان له پولي ( ګلګت ـ بالتستان ) څخه تیریږي او تر سینکیانګ پوري رسیږي.
په پلان کې ده چې چین او پاکستان د پاکستان په بیلا بیلو برخو، د اورګاډې د پټلۍ په اوږدو او ګوادر بندر کې د نوي صنعتي ښارونو د جوړولو په موخه تړونونه وکړي.
د ګوادر بندر د هرموز تنګې سره په نږدې واټن کې پروت دی، دا امکان شته چې هغه د منځني اسیا او چین په دروازه واوړي. هغه د نړۍ ۳ مهمې ستراتیژیکي ـ اقتصادي سیمې یاني منځنی ختیځ، سهیلي اسیا او منځنۍ اسیا سره نښلوي. د دغه اهمیت له کبله هغه نوي جګړي زیږولی شي او د کلنۍ ترانزیتي سوداګرۍ له لاري بلیونونه عاید وصولولی شي. د سعودي عربستان د پالیسۍ په یوه برخه کې د بدلون د پیښېدو له امله دا هېواد او د خلیج نور هېوادونه مینه ښیي چې د چین سره سوداګریزي او اقتصادي اړیکې ولري.
د روان کال د جنورۍ په ۳۰ مه پاکستان د ګوادر د بندر اداره او فعالیت د چین د یوي کمپنۍ په واک کې ورکړ او د ایران ـ پاکستان د غازو د پایپلاین تړون يې هم لاسلیک کړ. پاکستان هڅه کوي چې هغه هېواد، ایران او چین په خپلو کې نږدې وي . دا هغه څه دي چې واشنګټن يي د ځان سرخوږی بولي.
دګوادر بندر ډیر اهمیت لري یاني دا به داسې متبادله سوداګریزه لاره وي چې د پخوانۍ هغې لاري په پرتله چې د ۸۰۰۰ کیلو مترو په اوږدوالي د فارس د خلیج څخه پیل کیده ـ د ملاکې د تنګې نه اوښته او د چین تر ساحلي څنډو پوري رسېده د واټن او وخت په لحاظ ډیره لنډه وي. دا لاره به دواړو غاړو یاني د خلیج هېوادونو، د افریقا هغه برخې چیري چې چین په کې فعاله دی او اسیاته، ستري اقتصادي ګټې ورسوي.
واشنګټن مینه نه لري چې چین د انرژۍ د تهیه کولو په برخه کې زیاته خپلواکې ولري، له دې کبله ښایي د هوساینې احساس وکړي چې د پاکستان د بلوچستان په ایالت کې چیري چې ګوادر پروت دی هلته په دې ورستیو وختونو کې جنګیالي بیلتون پاله غورځنګ سر را اوچت کړی او وده مومې.
په ۲۰۰۶ م م کال د امریکا متحده ایالاتو د پوځې ځواکونو په مجله کې کولونل رالف پیټرز « د وینوپولي » تر سر لیک لاندي یوه مقاله خپره کړي او په هغې کې يي لیکلي دي: یو ښه شانته منځنی ختیځ به څه ډول بڼه ولري، د کومې توکړي په هکله چې د امریکا د متحده ایالاتونو په راتلونکې بهرنۍپالیسۍ کې یوغیر طبیعي بدلون پېښیدل څرګند شي . پیټرز دا ډول بدلون ته په اشاري د خپلواک بلوچستان د جوړیدو بلنه ورکوي. د هغه بلنې ته د امریکا او پاکستان د چارو کارپوه سلیګ هریسن چې د ( سي ایي ای ) سره د ټینګو اړیکو څخه برخمن دی غبرګون ښودلی. هغه په ۲۰۰۶ م م کال کې د پیټرز څخه وروسته په یوه احساس پارونکې مقاله کې چې په لوموند ډیپلوماتیکه اونیویارک ټایمز اخبارونوکې خپره شوه ولیکل: د خپلواک بلوچستان غورځنګ په « خوټېد » دی. د خپلواک بلوچستان د جوړیدو له پاره بلنه ۴ کاله وروسته له هغې وشوه کله چې چین د ګوادر د بندر د ابادولو لومړۍ مرحله پیل کړه.
د روان کال د جون په ۱۵ مه د بلوچستان پلازمینه کویټه کې په هغه موټر بس کې چې یو شمیر زده کوونکې او وسله وال په کې سپاره وه ترهګریز ځان وژونکی برید وشو چې په پایله کې يي دوه درجنه مړي پرځاي پریښودل. د بلوچستان ازادۍ ښنونکې پوځ ( بې ال ای ) چې یو جنګیالی بیلتون پالی غورځنګ دی د دې یرغلونو د تر سره کولو مسؤولیت په غاړه اخستی. په دې لړ کې یوازې ( بې ال ای ) نه ده چې دا ډول چاري پلي کوي، یانې کله چې ټېپې شوي زده کوونکې په چټکۍ روغتون ته لیږدول کېدل، په لاره کې د پاکستاني طالبانو یا لشکر جهنګوي ( ال جی ) د پټګنې یا کمین سره مخامخ شول.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

( بي ال ای ) د حکومت په تیل ځایونو او د غازو په نل لیکو باندي په یرغلونو کي لاس لري. د پاکستان حکومت په هند تور لګوي چي د ( بي ال ای ) ترشا ولاړ دی. هندوستان په دې نږدې وختونو کي امریکا او جاپان ته په یوځي اتحاد کي نږدي شوی، ځکه چي چینایي ضد کړلیچی لري.
د جولاي په ۲۹ مه یو لړ جهادي جنګیالیو چي په راکټونو او درنو وسلو سمبال وه د پاکستان د شمالي وزیرستان په قبایلي اجنسی کي د ډیره اسماعیل خان په لوي زندان یو سنجول شوی یرغل وکړ. دا سیمه سهیلي وزیرستان ته نږدي ده او له دې سیمي څخه د ګوادر نه سینکیانګ ته د اورګاډي لویه لار او نل لیکي تیریږي. د دغه یرغل په پایله کي د هغه زندان څخه د ۲۵۰ تنو په شاوخوا کي بندیان چي د لشکر جهنګوي غړي وه خوشي شول.
په سینکیانګ کي ترهګریز یرغلونه:
سینکیانګ هم په دې وختونو کي د ایغور د بیلتون پاله مسلمانانو د ښورښ له امله زیانمن شو. په تیر جون کي د ۱۰ میلیونوایغوریانو کور د ۲ ترهګریزو بریدونو ښکار شو او ۳۵ تنه په کي ووژل شول. دا پیښه د ۲۰۰۹ م م کال د جولاي د ۵ مي د ښورښ د څلورمي کلیزي څخه څو ورځي وړاندي په پلازمینه اورمچي کي وشوه . په هغه ښورښ کي ۱۹۷ تنه له منځه ولاړل.
د ایغور جهادي ترهګر د ایغور د خپلواک سازمان له خوا چي مقر یی په ترکیه کي دی ګمارل کیږي. هغوي د جګړه ایزي تجربي د حاصلولو له پاره سوریي ته استول کیږي. که هغوي له ځانه وړتیا وښودله بیا بیرته د د ترهګریزو بریدونو له پاره سینکیانګ ته لیږل کیږي.
د چین د رسمي ورځپاڼي ګلوبل ټایمز د رپوټ له مخي د جولاي په لمړیو کي د ایغور د مسلمانانو له ډلي څخه ممتي الیلي په سینکیانګ کي ونیول شو. په هغه باندي د اوسنیو ترهګریزوکړنو او ښورښونو د څپو د راپورته کولو تور پوري دی.
چینایي ورځپاڼي رپوټ ورکړی چي ۲۳ کلن الیلي پولیسو ته ګوینده شوی چي هغه د یو زده کوونکي په توګه د ختیځ ترکستان د اسلامي غورځنګ ( اې ټي ایي ام ) نومي سازمان له خوا په استانبول کي ګمارل شوی. الیلي په داسي مهال ونیول شو چي هغه غوښتل سینکیانګ ته د راستنیدو سره سم په یو لړ فعالیتونو لکه د تاو تریخوالي د سیوا کولو، یو لړ بریدونو ته د سازمان ورکولو او په هغه کي د خپل جګړه ایز مهارت د زیاتولو په چارو لاس پوري کړي. هغه اقرار کړی دی چي هغه د ختیځ ترکستان د اسلامي غورځنګ ( اې ټي ایي ام ) له خوا سینکیانګ ته د راستنیدو په نیت ګمارل شوی دی. ( اې ټي ایي ام ) یو ترهګریز سازمان دی چي په سینکیانګ کي د اسلامي دولت د جوړولو موخه لري. دا سازمان، د ختیځ ترکستان د ښووني او پیوستون د ټولني ( اې ټي اې اس ای ) تر څنګ یو سازمان دی . نوموړي ټولنه یو جلاوطنه ګروپ دی او په استانبول کي قرار لري.
د چین د ترهګرۍ ضد فعالیتونو د چارواکو په وینا، د ایغور ځوان مسلمانان هڅول کیږي چي استانبول ته د زده کړو له پاره ولاړ شي. هلته په رسیدو د ( اې ټي ایي ام ) او ( اې ټي اې اس ای) له خوا په غړیتوب نیول کیږي او بیا د القاعدي او نورو جهادي ګروپونو سره یو ځاي د جهاد په نیت سوریي ته اړول کیږي. که د سوریي د جګړي د ډګر د ازمایښت څخه بریالي راووتل، له دې جملي د ایغور جهادیان بیرته د چین سینکیانګ او د هغي څخه وروسته، هغه نوي ډګر ته چي د ګوادر نه چین ته د اورګاډي او سړک لویه غزیدلي لار یا د « ځمکي پل » بلل کیږي، استول کیږي.
د چین د چارواکو په قول، د ( اې ټي اې ای ) مقر په استانبول کي دی. دا سازمان د څیړنو، رسنیو، ټولنیزو چارو او د ښځو د ښووني د چارو څانګي لري. د دې ټولني موخه داده چي د سینکیانګ « مسلمانانو ته ښوونه او روزنه ورکړي » او د اسلامي دولت د جوړولو له لاري هغوي « خپلواک » کړي . انور یوسف تورانې په ۲۰۰۴ م م کال په واشنګټن کي د ختیځ ترکستان جلاوطنه حکومت جوړ کړ. واشنګټن د دې ګام پورته کووني په وړاندي کوم غبرګون ښکاره نه کړ، لیکن نورو هیوادونو په تیره بیا چین غبرګون وښودلو.
د ( اې ټي ایي ام ) او ( اې ټي اې اس ای ) سره د استانبول د اړیکو شتوالی کومه ناڅاپي خبره نه ده. د استانبول اسلامپالي صدراعظم رجب تایپ اردوغان د ۲۰۰۹ م م کال د ایغور د ښورښ د اسلامپالو ګډون کوونکو ملاتړ وکړ او هغوي یي خپل ملګري او ترکي خلک وبلل.
په مسأله د دې دومره ټینګار سره سره اوس یوه پوښتنه را ولاړیږي، ایا د چین او پاکستان د انرژۍ او سوداګرۍ دهلیز چي د ګوادر څخه تر سینکیانګ پوري غزیږي څومره زیان منونکی ښکاري؟ یاني کله چي چین او پاکستان تړون کوي، سمدلاسه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري د صدراعظم نواز شریف د لیدلو له پاره اسلام اباد ته سفر کوي، یا دا چي د امریکا متحده ایالات د پاکستان د شمالي وزیرستان په قبایلي سیمه د ډرون ګزارونو ته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ادامه ورکوي او په پایله کې لږ تر لږه ۶ وګړي وژل کيږي. دا هم د پاملرنې وړ ده، د جون د مياشتې راهيسې چې نواز شريف صدراعظم شوی، دا د امريکا د متحده ایالاتو د ډرون څلورم يرغل دی چې په زيږه شمالي وزيرستان چيري چې سينکيانګ ته پرې لار غزيدلې ده،تر سره کيږي. د پاکستان د کلکو او پرله پسې اعتراضونو برسيره واشنګټن نه ده منلې چې د ( سي ايي ای ) له خوا روان ډرون بريدونه ودروي.
په پايله کې د ( سي ايي ای ) د ډرون روان بريدونه، په بلوچستان کې د لشکر جهنګوي او بلوچ ازادئ بښونکې پوځ يرغلونه، د ترکيي او سوريي څخه سينکيانګ ته د جهاديانو استول، په راتلونکو څو مياشتو کې د چين - پاکستان د بنستيزو پلانونو د پلي کېدو د لارو چارو پيلېدل، دا ټول د بلوچستان په ايالت او د هغې نه پورته سينکيانګ کې نارامۍ زياتولی شي.

پای

سرچينه: رشيين ټوډې نيوز
ليکونکی: ويليم انګډل



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ